**بسم الله الرحمن الرحیم**

## په وینزویلا کې څه پېښ شوي؟ موږ ته یې اهمیت او په ټراو به یې د امریکا عمل څه وي؟




**(ژباړه)**

د وینزویلا د پارلمان رئیس «جوان ګوایدو» ځان د دغه هېواد د سرپرست ولسمشر په توګه اعلان کړ او د ۲۰۱۹م کال د جنوري په ۲۳مه یې د خپلو ملاتړو په مخ کې د فادارۍ لوړه وکړه، په داسې حال کې چې د وینزویلا پوځ د ګوایدو دا کړنه د ډیموکراسۍ پر ارزښتونو او اساسي قانون تېری بولي او له ولسمشر «نیکلاس مادورو» یې خپل ملاتړ اعلان کړ. همدا رنګه سترې محکمې هم له مادورو خپل ملاتړ اعلان کړ، خو د امریکا ولسمشر ټرامپ ګوایدو د وینزویلا د ولسمشر په توګه په رسمیت وپېژانده او او خپل د بهرنیو چارو وزیر، پامپیو ته یې امر وکړ چې د وینزویلا د ولسمشر په توګه له ګوایدو څخه ملاتړ وکړي. همدارنګه ټرامپ د وینزویلا د چارو لپاره خپل ځانګړی استازی وټاکه، چې له دغه هېواد سره خپلې اړیکې ټینګې کړي او په همدې ترتیب یې د ۲۰۱۹م کال د جنوري پر ۲۶مه امنیت شوار ته وړاندیز وکړ، چې د ګوایدو په رسمیت پېژندو او ملاتړ لپاره بین‌المللي پرېکړه واخلي؛ خو روسیې او چین دغه موضوع رد کړه او دا مسئله یې د قدرت زورګویي او بهرنۍ لاسوهنه بللې.

«مادورو» له امریکا سره د ډیپلوماتیکو اړیکو د پرېکولو اعلان وکړ او په دې ترتیب یوولسو هېوادونو ګوایدو په رسمیت وپېژانده. د امریکایي دولتونو، د ملګرو ملتونو ریس او انګلیس ګوایدو ته ددې مسئلې مبارکي وویله. حال دا چې اروپا ګواښ وکړ او ویې ویل: که د اتو ورځو په ترڅ کې په وینزویلا کې ټاکنې ترسره نه شي، ګوایدو به په رسمیت وپېژني. همدارنګه امریکا د حالت د خرابېدو خبر ورکړی او ددغه بد حالت د پیراخېدو د مخنیوي لپاره د خبرو غوښتونکې شوه.

په وینزویلا کې د ټولو داخلي ستونزو او مشکلاتو لامل بهرنۍ په ځانګړې ډول د امریکا لاسوهنې دي، هغې امریکا چې په لاتینه امریکا کې د قدرت خاونده وه او دا سیمه ځانته ارامه استوګنځی بولي. دا باید درک شي چې امریکا د وینزویلا د تېلو ستره واردوونکې وه او د وینزویلا ۳۹ سلنه تېل دغه هېواد ته واردېږي. که امریکا د وینزویلا پر نفتو بندیز ولګوي، وینزویلا ته به د ستونزو د جوړېدو لامل شي، خو امریکا ته هم ناوړه پایلې لري او په امریکا کې د بیو د لوړېدو لامل کېږي، نو امریکا به د وینزویلا پر تېلو هېڅ بندیز ونه لګوي؛ بلکې د دغه هېواد د سرو زرو پر پېرلو به ځینې بندیزونه ولګوي.

د وینزویلا ۹۰ سلنه اقتصاد د نفتو پر عایداتو ولاړ دی او کله چې د یوه بیلر تېلو بیه ۱۰۰ ډالرو ته رسېدلې وه، د دغه هېواد اقتصادي حالت ډېر ښه و، خو کله چې د تېلو بیې ټیټې شوې او ټیټوالی په سلو کې ۱۴۷۰۰۰ ته ورسېد او بیې خورا لوړې شوې. پر همدې دلیل ۶۵ سلنه مخالف حزب پارلمان ته لاره پیدا کړه او حاکم حزب یې له ماتې سره مخ کړ. د ملګرو

ملتونو د خبر پر اساس له درې مېليونه ډېر وينزويلايان له دغه هېواده کډوال شوي او ددغه هېواد اقتصاد په ډېر سخت ډول وپاشل شو او د امريکا تر واک لاندې راغی.

په ۲۰۱۳م کال کې د «چاويز» له مړينې وروسته «مادورو» قدرت ته ورسېد او په ۲۰۱۸م کال د مې پر ۲۰مه دويم ځل ګټونکی شو، خو واشنګټن مادورو په ټاکنو کې په درغلۍ تورن کړ، هڅه يې وکړه چې هغه شخصيتي ترور کړي او پوځ ورسره مخالف کړي. مادورو د چاويز سياست تعقيب کړ، چې پر وينزويلا د امريکا تسلط لرې او يا لږترلږه کم يې کړي.

څرګنده ده چې ټوله لاتينه امريکا د امريکا تر نفوذ لاندې ده او امريکا يې د خپلواکۍ خنډ کېږي. امريکا په ۲۰۰۲م کال کې د چاوېز پر ضد انقلاب وکړ، خو چاويز خپل ځان ثابت وساته او منتخب ولسمشر هايتي يې په ۲۰۰۴م کال کې لرې کړ. امريکا په لاتينه امريکا کې د انقلاب ترسره کولو سياست غوره کړی، چې د نظامي لاسوهنو په څنګ کې دا سيمه تر خپل نفوذ لاندې وساتي، لکه څرنګه يې چې نيمايي مکزيک اشغال کړ او د خپلې خاورې برخه يې وګرځاوه. لاتينه امريکا د «مونورو» د واک ته رسېدو له راهيسې، چې مخکې يې په ۱۸۲۳م کې اروپا ته ګواښ کړی و، د امريکا د نفوذ سيمه شمېرل کېږي، نو په دغه سيمه کې سياسي کړنې د امريکا په انحصار او لاسوهنې بدلې شوې، څوک چې وغواړي قدرت ته يې رسوي او څوک چې وغواړي له قدرته يې لرې کوي، په همدې دليل امريکا د وينزويلا د خلکو په وړاندې منفوره او بد نامه شوې ده.

امريکا د اوباما د حکومت په وخت کې هڅه وکړه، چې د وينزويلا له خلکو سره سوله وکړي او د خلکو پر وړاندې يې غلوونکې څېره په حقه وښيي، نو ځکه امريکا غواړي لومړی له وينزويلا سره او بيا له کوبا سره اړيکې ټينګې کړي.

لومړي وزير بايدن ډېر امريکايي هېوادونه وليدل او د ۲۰۰۹م کال د مارچ په ۲۸مه يې له تشيلي سره په ليدنه کې وويل: «اوس له لاتيني امريکا سره د امريکا د متحده ايالاتو د مرستو او خبرو اترو وخت را رسېدلی دی.» او امريکا د هغه هوکړه ليک د لاسليک کولو غوښتونکې شوه، چې د بوش زوي په وخت کې د دوو امريکاوو تر منځ د تجارتي سيمې د رامنځته کولو لپاره ترل شوی و، هغه پرېکړه ليک چې په ۲۰۰۳م کې په ميامي کې د شمالي او جنوبي امريکا په کنفرانس کې ترل شوی و؛ خو عملي نه شو او چاوېز دغه پرېکړه ليک د استعمار وسيله وبلله او امريکا يې تورنه کړه، چې امريکايي دولتونه يې د دوو امريکاوو تر منځ د تجارتي سيمې لاسليک کولو ته اړ کوي او په پای کې هغه کنفرانس له کومې لاسته راوړنې پرته پای ته ورسېد او د شمالي او جنوبي امريکا اړيکې سړې شوې.

امريکا امريکايي دولتونو ته په بيا قناعت ورکولو ونه توانېده، چې بيا داسې پرېکړه ليک وتړي، لکه څرنګه يې چې په ۲۰۰۵م کال کې هڅه وکړه څو په ارجنټاين کې د دوو امريکاوو تر منځ کنفرانس جوړ کړي خو بريالی نه شوه.

په جنوبي وچه کې د امريکا يوه مهمه موخه دا ده چې دغه سيمه خپله تجارتي سيمه وګرځوي، چې د داسې پرېکړه ليکونو تر نامه لاندې په خپله خوښه د دغه هېواد د شتمنيو لوټولو ته لاره خلاصه کړي، چې د شتمنيو په وړلو سره هغوي غريب کړي او تر خپل واک لاندې يې راولي. لکه څنګه چې په مکزيک کې امريکا په دغه پلان کې بريالی شوه او سخته ده چې مکزيک دې د امريکا د استعمار له دامه ځان وژغوري.

د اوباما اداري هڅه وکړه چې دا استعمار د «پراخ شراکت» تر نامه لاندې په يوه بله طريقه پلی کړي، خو کله چې ټرامپ قدرت ته وسېد، د زورګويئ طريقه يې ونيوله او د امريکا د حکومت استعماري سياست يې په ښکاره او بې ساري ډول تحميل کړ او په ټولو هېوادونو کې يې خپله لاسوهنه په ډاګه کړه. همدارنګه ټرامپ د اشغال شويو هېوادونو حکام،که څه هم د امريکا تابع دي، په ښکاره توهين او تحقير کړل. لکه څنګه چې ټرامپ د مکزيک، سعودي او ترکې حکام په ډاګه سپک کړل او د مادورو پر وړاندې يې خپله جګړه اعلان کړه.

مادورو وويل: «زه د امريکا پر ضد نه، بلکې د استعمار پر ضد يم. زه مې خپلې اړيکې د امريکا له ملت سره نه، بلکې د ټرامپ له حکومت سره پرېکوم. زه تيار يم چې نفت، کچالو، پياز او چرګان پر امريکا وپلورم.» ددې په درک چې مادورو د ۲۰۱۹م کال د جنوري پر ۱۹مه نېټه دويم ځل د وفادارئ د لوړې په وخت کې وويل: «اوس نوې نړۍ رامنځته شوې، چې هغو استعماري او ديکتاتوري نظامونو ته چې يو دولت او دولتونه يې تابع وي، پر دوي د حکومت کولو اجازه نه ورکوي.»

حقيقت دا دی چې پر مادورو ستونزې راغلې او له خارج او داخل څخه زيات فشارونه پرې وضعه شوي دي. سره له دې چې د وينزويلا پوځ يې ملاتړ کوي، په وينزويلا کې د چين او روسيې دخالت اغېزمن نه و، بلکې امريکا په وينزويلا کې اساسي رول لري. امريکا ده چې نن ورځ يې په خپلو لاسوهنو سره وينزويلا ګواښې لکه څنګه چې د امريکا ولسمشر ټرامپ ويلي دي: «د وينزويلا ټول واک يې له لاسه وتلی دی.»

همدارنګه اروپايي هېوادونه په وينزويلا کې کوم رول او ځای نه لري، هغوي استعماري دولتونه دي او هڅه يې وکړه چې يو بل موقف ونيسي او اعلان يې وکړ که په راتلونکو اتو ورځو کې ټاکنې ترسره نه شوې، «غوادير» ژر په رسميت وپېژني. مادورو د امريکا له مخالفينو سره له سره خبرې پيل کړې، ځکه هغه د امريکا رول او ځواک درک کوي او په دغه هېواد کې به د ټاکنو ترسره کول ناشوني نه وي.

له پورتنيو خبرو په ډاګه کېږي چې د لاتيني امريکا او وينزويلا خلک له سخت فقر څخه ځورېږي او له کړاوونو ډک ژوند تېروي. دا هېوادونه د امريکا تر استعمار او واک لاندې دي او غواړي له دې استعماره ځان وژغوري، خو نه يې شي کولی. د دغو هېوادونو نظامونه په بشپړه توګه فاسد دي، خو له دغه فساده د وتو لاره يې ورکه کړې، نو پر اسلامي امت چې غوره امت دی، لازمه ده چې راپورته شي، دغه خلک او ټول بشريت د امريکا د دولت له استعماره خلاص کړي، خلک او بشريت د ظالمو نظامونو له ظلم څخه، چې د استعمار تابع دي، وژغوري. د بشريت او دغو خلکو ژغورل له اسلامي امت پرته ناشوني ده. موږ چې حقه او پاکه ايډيالوژي لېږدوو، پر موږ لازمه ده چې خپل ګامونه او حرکت ګړندی کړو او د نبوت پر منهج راشده خلافت تاسيس کړو، چې د وينزويلا خلک او ټول بشريت د استعمار له ظلمه وباسو او د اسلام تر بيرغ لاندې يې راولو.

**له الرايه جريدې اخيستل شوې**

**ليکوال: اسعد منصور**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادي الاول ۲۳مه**

**۲۰۱۹م، د جنوري ۳۰مه**

**ژباړن: زمری دوست**